مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ډاکټر لودویګ آدمک
ترجمه: رحمت آریا

۲۰۲۶/۰۶/۲۷

# د افغانستان بایوګرافیکي قاموس
## دوهم ټوک
(دری نویمه برخه)

### ډاکټر محمد اسحٰق ساعي

د محمد اسمٰعیل زوی په ۱۹۳۲ز کال کې په کابل کې زیږېدلی دئ. طب ئې ولوست او د یوۀ فیلوشیپ تر پروګرام لاندې شوروي اتحاد ته لاړ. په ۱۹۷۱ز کال کې ئې له عبدالحق واله سره د کاروان د نشریې په خپرولو کې مرسته وکړه. د ډېرو کلونو لپاره د ګلبهار په نساجي فابریکې کې د فابریکې ډاکټر وو. اوس په کابل کې ژوند کوي.

### محمد اسمٰعیل ساعي

د «مشاق» په نوم هم شهرت لري. په ۱۸۹۵ز کال کې د پنجشیر په تاوخ کې زیږېدلی دئ او همدلته ئې فقه او عربي ګرامر ولوست. په ۱۹۱۷ز کال کې ئې د کابل په لومړیو لومړنیو کې په یوۀ ښوونځي کې ئې د خطاطۍ درس ورکړ او بیا ئې په ۱۹۲۱ز کال کې د امانیه په ښوونځي کې د خطاطۍ تدریس وکړ. د دري ژبې په ادبیاتو کې، په عربي ژبې او د قرآن په تفسیر کې ئې د خپل مهارت او تخصص له کبله پېژندویي او شهرت تر لاسه کړی وو. د استقلال د لیسې مرستیال مدیر سو. د ۱۹۲۰ز لسیزې تر وروستیو پورې ئې د باندنیو چارو په وزارت کې د مأمور په توګه کار وکړ. په ۱۹۳۰ز کال کې د معارف د وزارت کارمند. له ۱۹۴۳ تر ۱۹۴۸ز کال پورې د کندهار د معارف عمومي مدیر. له ۱۹۴۹ تر ۱۹۵۸ز کال پورې د معارف د وزارت سلاکار. د ساعي اکثریت اشعار د انیس او اصلاح په ورځپاڼو کې خپارۀ سوي دي خو بیا هم د ناچاپ سویو اشعارو یوه لویه ټولګه ورځخه پاتې ده. ساعي د ۱۹۷۷ز کال د اپریل په میاشت کې د ۸۲ کالو په عمر وفات سو.

### سراج الدین سعید

د ملا منهاج الدین زوی په ۱۹۰۱ز کال کې د کابل په ده افغانانو کې زیږېدلی دئ. خصوصي زده کړې لري، عربي، اردو، تورکي او انګلیسي ئې لوستي دي. د امان الله خان پر مهال ښوونکی وو. د باندنیو چارو د وزارت، د دفاع د وزارت او د سلطنتي پروتوکول د دفتر کارمند. د ولیعهد شهزاده احمد شاه خصوصي ښوونکی. لیکوال او شاعر.

### عزیز الرحمن سعیدی

د کابل پوهنتون رئیس. د انقلابي شورې غړی. ویل کېږي چې د ۱۹۸۲ز کال د مارچ په میاشت کې د مجاهدینو له پلوه ووژل سو.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولـئ

## عزيز الرحمن سيفی

د سلطان محمد زوی په ۱۹۰۵ز کال کې په پېښور کې زېږېدلی دئ. له مولانا نظيف الدين څخه ئې زده کړې وکړې. په شل کلنی کې د ديوبند ديني مدرسې ته لاړ. افغانستان ته له راستنيدلو وروسته په ۱۹۴۳ز کال کې د انيس د ورځپاڼې همکار وو. د پښتو اکاډيمی غړی. ليکوال او شاعر.

## محمد اکبر سيفی

د محمد حسن زوی په ۱۹۱۶ز کال کې په کابل کې زېږېدلی دئ. په ۱۹۳۵ز کال کې د نجات له ليسې څخه فارغ سوی دئ او په ۱۹۴۱ز کال کې جرمني ته لاړ. ښايي په دې نېټې کې تېروتنه سوې وي. – ژ. په ۱۹۴۱ز کال کې ئې د ميونيخ له پوهنتون څخه خپل ليسانس په اقتصاد کې واخيست. په اقتصاد کې د دکتورا د فراغت لپاره ئې فراغتي کارونه وکړل، د دکتورا په ازموينه کې بريالی هم سو خو د ډاکټرۍ رساله او اړوند څېړنيز کارونه ئې په ميونيخ کې د دوهمې نړۍ والې جګړې د متحدينو د هوايي بمبارد له کبله له منځه لاړل. له ۱۹۴۵ تر ۱۹۴۷ز کال پورې د سويس بانک کارپوريشن اقتصاد پوه. د ۱۹۴۷ز کال د مارچ په مياشت کې افغانستان ته راستون سو. په ۱۹۴۷ز کال کې په کابل کې د ملي بانک د فرعي څانګې مدير. له ۱۹۴۷ تر ۱۹۴۹ز کال پورې مرستيال رئيس. له ۱۹۴۹ تر ۱۹۵۲ز کال پورې د کندز د مالوچو د کمپنۍ مرستيال رئيس. له ۱۹۵۲ تر ۱۹۵۷ز کال پورې د افغان نساجي د کمپنۍ مرستيال رئيس. له ۱۹۵۷ تر ۱۹۶۱ز کال پورې د افغان نساجۍ د فابريکې اداري او مالي رئيس. له ۱۹۶۱ تر ۱۹۶۳ز کال پورې د جنګلک د فابريکو رئيس. له ۱۹۶۳ تر ۱۹۶۴ز کال پورې د کانونو او صنايعو د وزارت سلاکار. له ۱۹۶۵ تر ۱۹۷۳ز کال پورې د معارف د وزارت د تعميراتو د رياست رئيس. له ۱۹۷۳ تر ۱۹۷۸ز کال پورې د جنګلک د فابريکو رئيس. له ۱۹۷۸ تر ۱۹۸۰ز کال پورې بې کاره. لومړی لويديځ جرمني ته وتښتېد او بيا په ۱۹۸۴ز کال د امريکا متحده ايالاتو ته کډه سو. د OSULA غړی. مورنۍ ژبه يې دري ده.

## جګړن سيف الدين

د ۱۹۷۸ز کال د مې په مياشت کې د کورنيو چارو د وزارت درستيزوال.

## سيف الله

د غوايي له پاڅون وروسته د کابل ښار د پوليسو ”څارندوی“ بولندوی.

## ډاکټر امين صيقل

د دولتي مطبعې د زينکوګرافی د څانګې د مشر عبدالحق صيقل زوی په ۱۹۵۰ز کال کې په کابل کې زېږېدلی دئ. منځنی ښوونځی ئې د غازي په ليسې کې او بيا ئې د اوهايو د ليمون مانرو [1] په ليسې کې لوستی دئ. د لويديځې آسترالیا [2] له پوهنتون څخه د ليسانس په درجې او د آسترالیا له نشنل [3] پوهنتون څخه ئې خپله دکتورا تر لاسه کړه. په ۱۹۶۹ز کال کې د کابل ټايمز ژورناليست. د ۱۹۷۹ز کال له ژمي – تر ۱۹۸۰ز کال پورې د پرنستن پوهنتون

[1] - Lemon Monroe High School, Ohio
[2] -Western Australia University
[3] -Australian National University


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په څير و لولئ

همکار /فیلو مـېلمه [4]. د ۱۹۸۰ له ژمي تر ۱۹۸۱ز کال پورې د کامبریج د پوهنتون د کینګز کالج مـېلمه عالم [5]. په نړۍ والو اړیکو کې د راکفیلر فوندیشن همکار او د سیاسي علومو مدرس [6]. په ۱۹۸۵ز کال کې د آسترالیا په نشنل پوهنتون کې. د (شاه د ظهور او سقوط(چاپ پرنستن پوهنتون ۱۹۸۰ز کال) [7] په ګډون د لویدیځ، آسیا، او منځني ختیځ په هکله د یو شمـېر آثارو مؤلف. همدا شان د ژورنالیست او برودکاستر په توګه فعال وو. له یوې آسترالیایي مـېرمنې سره ئـې واده کړی دئ.

## عبدالصمد صلاح

د ۱۹۳۵ز کال په شاو خوا کې زېږېدلی دئ. په ۱۹۵۳ز کال کې د نجات له ښوونځي څخه فارغ سوی دئ. تر ۱۹۵۵ز کال پورې ئـې د میونیخ په پوهنتون کې جیولوژي او انجنیري ولوستله او په ۱۹۵۷ز کال کې ئـې د (هانوور په پوهنتون [8] کې ودانیزه / ساختماني انجنیري ولوستله. په ۱۹۶۰ز کال کې افغانستان ته راستون سو. په ۱۹۶۰ز کال کې ئـې د کانونو او صنایعو په وزارت کې کار وکړ. له ۱۹۷۳ تر ۱۹۷۷ز کال پورې سرپرست وزیر چي په پای کې له ۱۹۷۷ تر ۱۹۷۸ز کال پورې د کانونو او صنایعو وزیر سو. د راډیو افغانستان د جرمني د څانګې د خبرونو لپاره د جرمني ژبې ژباړونکی. تر ۱۹۸۶ز کال پورې په کابل کې ژوند کوي. په جرمني او انګلیسي خبرې کوي.

## عبدالسلام سلام

له خلم څخه د عبدالقادر زوی. خپل لیسانس ئـې په اقتصاد کې د کابل له پوهنتون څخه واخیست او په ۱۹۶۷ز کال کې ئـې په هندوستان، فیلیپین او پاکستان کې روزنه ولیدله. د اقتصاد په وزارت کې مدیر. په ۱۹۷۴ز کال کې د اقتصاد د وزارت مرستیال وزیر. د افغانستان بانک لومړی مرستیال رئـیس. د پښتـنـي تجارتي بانک رئـیس. د دولتي پلان جوړوني د کمـېټې د باندنیو اړیکو د ریاست رئـیس. د ملي بانک مرستیال اجرائـیوي رئـیس. په ۱۹۸۵ز کال کې د سرې میاشتې د ټولني سکرتر جنرال.

## عبدالصمد سلیم

د قاري عبدالسلام زوی په ۱۹۲۵ز کال کې زېږېدلی دئ. (قاري عبدالسلام : له منځنی آسیا څخه راغلی یو کډوال وو چي د ملالی په لیسې کې ئـې د اسلامي علومو تدریس کاوهٔ.) عبدالصمد سلیم خپلې زده کړې په کابل او کالیفورنیا کې وکړې. د کانونو له وزارت سره ئـې کار وکړ. په ۱۹۵۴ز کال کې ئـې د یوې تخنیکي بیرو بنسټ کښېـښود او دی ئـې مشر سو. له ۱۹۵۸ تر ۱۹۶۰ز کال پورې د جیالوجی د دیپارتمنت مشر. په ۱۹۶۵ز کال کې د کانونو د وزارت مرستیال وزیر. په ۱۹۶۵او ۱۹۶۷ ز کال کې د کانونو او صنایعو د وزارت وزیر. د داؤود د ۱۹۷۳ز کال له کودتا را وروسته تر اوسه بې کاره دئ.

---

[4] -Visiting Fellow
[5] -Visiting Scholar, King's College University of Cambridge
[6] -Rockefeller Foundation Fellow in International Relations
[7] -The Rise and Fall of Shah (Princenton University)
[8] -University of Hannover


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

## ډاکتر محمد ظریف سلیم

د عبدالقهار زوی. د کرنې په وزارت کې د کرنې او د کرنې اړوندو خدماتو د ریاست[9] رئيس. له ۱۹۵۹ تر ۱۹۶۱ز کال پورې ئې د وایومینګ په پوهنتون کې د نباتاتو علم ولوست او ماسترۍ ئې تر لاسه کړه. له ۱۹۶۴ تر ۱۹۶۹ز کال پورې ئې د وسکانسن[10] په پوهنتون کې تحصیل وکړ او خپله دکتورا ئې تر لاسه کړه. په ۱۹۷۲ز کال کې ئې په ترکیې کې کرنیزه بازار موندنه[11] ولوستله. د کرنې د پوهنځې رئيس. په ۱۹۷۷ز کال کې وفات سو.

**نور بیا**

## محمد ارسلان سلیمي

د محمد اسد خان زوی، په ۱۹۲۴ز کال کې په وردکو کې...

[قدرمنو لوستونکو! د بناعلی رحمت آریا د آرشیف: لینک]

[9] -Agribusiness
[10] -Unversity of Wisconsin
[11] -Agricultural Marketing


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ